

# پوهېږم نهٔ؟
# "د اجمل خټک بابا په مزار د چاؤدنې په حقله"

نېک محمد د سرائے تالاش

پوهېږم نهٔ چې کوم ځائے نه، څنګه او د کومو الفاظو سره شروع وکړم؟ تېر چاپېره چې فکر زغلوم او نظر اچووم د انسان او انسانيت، مذهبونو او تهذيبونو رواجونو جايزه اخلم، نو ډېر حېران او پرېشان شم. پوهېږم نهٔ چې د اجمل خټک بابا د قبر ګنبد نړول او په بم الوزول اخر څهٔ پيغام او مقصد لري.پوهېږم نهٔ دا خو د هغې ملنګ بابا او سوچه مسلمان د قبر ځلے ؤ،کوم چې د هغوي مقبرې ته مخامخ د دارالعلوم حقانيې د تيرې اېښودلو او چلولو لوئے مشر حضرت مولانا عبدالحق صاحب ملګرے او ددې په بنياد اېښودو کښې شريک معتبر پاک او خوږ انسان ؤ. دا خو د يو داسې پاک او سوچه مسلمان د قبر ګنبد ؤ، چا چې خپل ټول ژوند تر اخري سلګۍ پورې د حق، انصاف، انسانيت، امن او مينې ګټلو دپاره خپله ځواني قربان کولو سره سره ټول ژوند د غريبۍ، عاجزې،

خپلو بچو او کورنۍ نه جدا په تورو تیارو کښې یا
هتکړو او زولنو کښې ډېر په نره او استقامت سره
وقف کړے ؤ او په ټول عمر کښې یې نۀ خو د
کرسۍ او نۀ د دولت ګټلو شوق کړے ؤ، یو مجاهد
ؤ، دخدائے په دې لویه خدایۍ کښې یې انسان د
انسان په رنګ لیدل غوښتل. د ژوند یوه یوه لمحه
یې د امن، مینې او انسانیت سره سره خصوصاً د
دې خپلې خاورې او خپلو خلکو د حق او عزت
ګټللار کښې لکه د یو لېوني تېرول عبآدت او
انسانیت ګڼلو. د اصولو او حق په لار کښې په ټول
ژوند کښې د خدایي خدمتګار په حېث او د
باچاخان بابا د تحریک کلکې ملګرتیا او د ولي
خان بابا د یار په حېث د چا زورور زور د چا دولت
او کرسۍ د خپلې حقې او پاکې لارې ګرځولے نۀ ؤ
او ځکه خو په انساني دنیا کښې ډېر لوړ لوړ سرونه
به د هغۀ سادګۍ، فقیرۍ او غریبۍ ته ټیټېدل او
پسخېدل. ټول ژوند یې د یو نر، غېرتي، ایماندار
مسلمان په طور د تاریخ په پاڼو یوه داسې نمونه
جوړه کړې ده، چې نن هم د هغوي د ژوند، جدوجهد
مثال زمونږ د دیني لویو لویو پاکو بزرګانو د ژوند
او پاکۍ سره تر ډېره حده د هغوي د صحیح تقلید
او مثالي ژوند یو ښکاره او رڼه نمونه ده، ځکه خو د
هغوي د ژوند دې پاکې او رڼې شیشې کښې چې
نن ډېر هغه ځان ته پارسا او پاک ویونکي
چې مخامخ شي نو خړ او د پاک
صفا پکښې نۀ ښکاري.
هغوي کۀ ټول عمر د
خپل قام د حق
او جګې
شملې ساتلو خبره کړې ده نو یوځائے هم د هغوي په
ژوند کښې ځوک نۀ شي په ګوته کولے، چې هغه د
دین یا انسانیت نفي کوي، بلکې زمونږ د دیني
اصولو عېن مطابق د خپلو خلقو، خپل قام سره سره
د ټول انسانیت انساني حقونه او عزت د هغوي د
ژوند مرام ؤ او تش په وینا نۀ بلکې په عملي طور
یې ثابت کړې ده او نن هم د هغوي کور، حجره او د
بچو او خپلوانو ژوند د هر چا ښکاره دے او
انسانیت پرې فخر کولے شي، ګوره د ظلم او زیاتي
خلاف د هر امر او جابر یې هم په وینا یعنې خپلو
اشعارو کښې او هم په عمل کښې چرته د خپل قام
او انسان سره ټګي نۀ ده کړې، کۀ
په



خپله معاشره کښې چرته د يو بې سر او غريب سره ظلم يې ليدلے نو په ګوته کړے يې دے لکه په خپل يو نظم کښې يې د لبنتي د سر خط لاندې د غريب معصوم د بې وسې او د مالدارو ذکر داسې کړے دے، چې بنده ورته په ژړا شي، نور د معاشرتي ډېرو کمو نشاندهيو سره سره د يوې غېرتي پښتنې مسلمانې پېغلې د (پېغلې) سرليک لاندې د ظلم خلاف د خپل ورور په قبر د جهاد کولو په حقله د هغې د استقامت او نورو ته د ترغيب ډېر عجيبه نظم ليکلے دے، زۀ به د هغوي په حقله څۀ ووايم، د خپل کم علم او پوهې له کبله، صرف دومره به ووايم چې نن انسانيت او مسلماني څۀ شوه؟ کوم ځائے قېد ده؟ شرافت کوم کوهي کښې چا تړلے دے، زمونږ رواج او تهذيب چرته لاړ دے؟ زمونږ پښتنو مسلمانانو خصوصاً د قبر، جومات، جنازې، جرګې او حجرې سره سره د خوېندو مېندو د معصومانو او بوډاګانو هغه ډېر احترام ورکولو او مقدس ګڼلو هغه ژوند ولې داسې برعکس شو. دا هر څۀ پامال شو او پامال کېږي، بېشکه کفري قوتونه خو د اولې ورځې نه زمونږ مسلمانانو او خصوصاً د پښتنو مسلمانانو کورونه کنډر کول او لاس کښې کچکول ليدل غواړي، خو چې هغه څۀ کمے دے او کومه ګناه ده چې په مونږ د الله پاک داسې قهر نازل شوے، چې په خپله د خپل کور دېوال کښې داسې کنډر کوو چې دشمن او غل پرې راننوځي او زمونږ هر څۀ تباه کړي. مسلمانانو قومونو همېش په ډېر حکمت او ايمانداري سره د اتفاق په وجه همېش داسې تابياګانې کړې دي، چې په تاريخ کښې د يومسلمان قوم د فتحې او کاميابي باعث ګرځېدلي. خو نن زمونږ ايماني او انساني قوتونه داسې شل شوي دي، چې مونږ په حائے د اتفاق، صبر او حکمت سره د خپل دشمن د مقابلې په ځائے خپل کور ته د هغوي د راننوتو جواز پېدا کوو، چې انجام يې بدنامي او انساني کرښونه وتل او تباهي نه سېوا بل هېڅ هم په نظر نۀ راځي او کۀ مونږ نن هم د اتفاق او دشمن ته بند تړلو بهترين حکمت عملي ونۀ کړے شو نو خدائے خبر چې د دې نه به هم لا نور زيات څۀ را پېښ شي.

الله تعالیٰ دې زمونږ ګناهونه معاف کړي او د يو صحيح مسلمان هغه ټول خصلتونه دې را کښې پيدا کړي، چې په دې انساني دنيا کښې بيا خپل هغه د انسانيت، مينې، محبت او عزت هغه خپل تاريخ راژوندے کړو او د کفري قوتونو په داسې رنګ مقابله وکړو چې د هغوي زهر خوربدو ته پرې نۀ ږدو او خپله خاوره او ورورولي بچ وساتو. امين ځکه چې مسلمانان خپلو کښې خو سره يو ورونه دي چې په اتفاق سره وي نو دشمن چرته هم مونږه تباه کولے نۀ شي. خدائے پاک دې زمونږ اتفاق نصيب کړي.

